(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه د کلي ما ځيګر پيا ټي شو
هغه منګي هغه ګودر پيا ټي شو

خنګه منزل ته زه ور ورسيږم
چې نيمه لاره کېنې د سبر پيا ټي شو
آخر پښتون يم ميلمه خنګه وشرم
د يار غم کور کېنې د ځيګر پيا ټي شو
اشنا زما د سره کوز نه کړلو
د عشق په پتې مې په سر پيا ټي شو
هسې نه خلق پرې خبر شي سبا
ستا د کورخوا کېنې مې ګادر پيا ټي شو

پياکل منصور په جانان هرڅه بائله
تش د لفظونو جادوګر پيا ټي شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونو د سِتم په لاس وهلي یُو مونږ دواړه
حسینو په دردمن زړهٔ دردولي یُو مونږ دواړه

هر چا زمونږ په غم د خوشحالۍ تمبل وهلے
د هر چا په خفګان تل ژړېدلي یُو مونږ دواړه

رېبار رو ما دیار د کور چنه پرېښودې نهٔ ده
رقیب کهٔ د جانان چم کښې ګنځلي یُو مونږ دواړه

زما ځکښې جانان ته د جانان په ځکښې ما ته
ګنځل مهٔ کړه یو بل ته نازولي یُو مونږ دواړه

تش نوم مو یو شان نهٔ دے په کردار کښې هم یوشان یُو
منصوره یار له دار بانده ختلي یُو مونږ دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مستي مې راوستلې شي بهار کښې
د زړګي وينې به اوتولم ګلزار کښې

ستمګره ياره کله به لا دروځې!
تور د سترګو مې سپينېږي انتظار کښې

شهزادګۍ د شپږه غونډ په ما خبر کړې
د يوسف پشان په حال شوم کړمار کښې

که زموږ کلي کښې داسې محل نشته
چا سپيا کې دي تېلې ستا سونبار کښې

ماته يودي لېونے يمه منصور يم
فرق نه کوم په دار او په دلدار کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم مې ارمانونه ستا کاته وژني
هم مې ستا قاتلې سترګې زړه وژني

خدای خبر په روئ بانډې چا څه اوکړل
ګوره پښتنو ته پښتانه وژني
تا چې مې یادونه زړه کښې ووژل
کوم پښتون په کور مېلمانه وژني
تا که د زړه راز ووې په دار شولې
ما به هم د یار په طرف تله وژني
تا ته ګناه نشته دې پروا مه کړه
ما خو دا خپل زړه دا خپل مازغه وژني

څه کنه هغه خو انا الحق ووې
ما څه کړي ما منصور په څه وژني

